نظرمحمد مطمئن
۲۰۱۴/۰۲/۲۴

# د متفکرانو متفکر

د خلکو سره داسي فکر وو چې د غرب څخه راغلي سیاست کوونکې او روڼ آندي چې د پوهنتونو استادان تیر شوې، داسي معلومیږي چې دوی د خپل لیاقت ازموینه په لویدیځ کې ورکړې ده، او له یوې ځانګړي مرحلې وروسته دې حد ته رسیدلي چې دوی متفکر او پوهان ونومول شي.
په تیر ځل ټاکنو (۲۰۰۹) کې د نړې دوېیم درجه متفکر ډاکټر اشرف غني او پروفیسور هدایت امین ارسلا تر ټولو زیات د افغانستان د لومړي درجه متفکر ښاغلي کرزي له خوا څخه خطا ایستل شول.
د ۲۰۱۴ ز کال د ولسمشریزو ټاکنو له پاره تر ټولو لومړی د استاد سیاف نوم اخستل کیدی، ویل کیدل چې ښاغلی کرزی یې ملاتړی دی، ځینو کورنیو او نړیوالو رسنیو هم دغه خبرونه خپاره کړل، دا هر څه یوازې آوازې نه وې، ښاغلي کرزي په ځینو ناستو کې اشارې کړې وې، چې تر ټولو ښه کاندید زما په نظر استاد سیاف کیدلای شي، هغه قاطع دی، مجاهد دی، رهبر دی، د شمال مقاومت برحال غړی پاتې شوی، په نړیوال ډول د اسلامي هیوادونو سره اړیکې لري، او دا ډول په هیواد کې د ننه پلویان لري.
کله چې د ټاکنو وخت راورسید، استاد سیاف ځان کاندید کړ، ښاغلي کرزي له دې سره سره ډاکټر اشرف غني احمدزي ته هم پیغام واستاوو، چې په تیرو ۲۰۰۹ ټاکنو کې تاسي د پام وړ رایې خپلې کړې، دا ځل به زه هم ستاسي ملاتړی یم، داسي ویل کیږی چې حاجي صاحب دین محمد د ښاغلي کرزي پیغام ډاکټر صاحب اشرف غني ته رسولي وو.
ډاکټر اشرف غني چې په تیرو ټاکنو کې د ولسمشر کرزي سره سیالئ ته ولاړ وو، د دوی تر منځ بې باورې او بې اعتمادي په هغه وخت کې یو پر بل زیاته شوې وه.
ډاکټر اشرف غني ته خپلو نږدې ملګرو او سلاکارانو مشوره ورکړې وه چې له ښاغلي کرزي سره اړیکې ښې او نورمال کړې، که څه هم ډاکټر صاحب خپله غوسه نه شي قابو کولای خو د کرزي په مقابل کې باید له ډیرې حوصلې او زغم څخه کار واخلي، تر څو د کرزي صاحب د اعتماد وړ وګرځي، او د راتلونکو انتخاباتو له پاره تر پروړه (بوسو) لاندي او به تیري کړي.
همداسي وشول، ډاکټر اشرف غني له ښاغلي کرزي سره اړیکې ښې کړې، د ښاغلي کرزي په دوېیمه دوره کې بهرنیانو غوښتل چې ډاکټر اشرف غني ته زیات واک او صلاحیت ورکول شي، په هغه وختونو کې یې ښاغلي کرزي مخالفت وکی، بالاخره د بهرنیو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د واک د سپارلو مشر وټاکل شو.
ډاکټر اشرف غني احمدزي په خوله هیڅ نه ویل چې راتلونکو ټاکنو ته به کاندید وي، ځکه هغه د ښاغلي حنیف اتمر او جبار ثابت برخلیکونه په خپلو سترګو لیدلي وو، له دې امله یې په احتیاط سره کار کاوو، ولایتونو ته یې د بهرنیو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د واک د انتقال پر وخت خپله سفرونه کول، او په ولایتونو کې یې له قومي، سیاسي او مذهبي مشرانو سره لیدنې کتنې کول، د راتلونکې وخت له پاره یې د ځان له پاره وړکسان به پټه خوله په نښه کول.
کله چې د ټاکنو وخت رانږدې شو، او د ښاغلي کرزي پیغام هم ورته ورسیدی، ډاکټر اشرف غني احمدزي فکر وکړ چې په ربښتیا هم ښاغلی کرزی به په راتلونکو ټاکنو کې یوائې له ده څخه ملاتړ وکړي.
دا ډول قطب الدین هلال صاحب ته، ویل کیږی چې د ښاغلي کرزي پیغام د کورنیو چارو وزیر ښاغلي داؤدزي له خوا رسیدلی وو، چې کرزي صاحب به یې ننګه او ملاتړ کوي، ځان دې کاندي کړي.
ډاکټر زلمي رسول بیا هغه څوک وو، چې د ځینو بهرنیو سفرونو او مجلسونو پر مهال ښاغلي کرزي خلکو ته ویل چې راتلونکی ولسمشر به ډاکټر زلمي رسول وي، هغه څوک چې زما سره په سفر کې دی، او له موږ او تاسي سره په مجلس کې شرکت لري.
په ښکاره خو ښاغلی کرزی د خپل مشر ورور قیوم کرزي مخالفت کوي، په ځینو ناستو کې وایې چې زما خوښه نه ده چې هغه ځان کاندید کړی، او زما له مشورې پرته یې داکار کړی، زه د هغه څخه ملاتړ او ننګه نه کوم، ولي داسي نښې نښانې دي چې په پټه یې ښاغلی کرزي په بشپړه ډول سره ننګه او ملاتړ کوي.
ډاکټر اشرف غني اوسمهال کله نا کله خپلو ملګرو او سیاسي څیرو ته وایې چې: ولسمشر کرزی ډیر پوخ سیاست مدار دی، او بیا یو ډول تبسم هم وکړي، هغه پوهیږي چې د نړئ په سطحه دوېیم متفکر یې هم غولولی دی.
استاد سیاف هم په ځینو ځانګړو مجلسونو کې ویلې چې ولسمشر کرزي ورسره دوکه وکړه، او دهغه پر خپره نور اعتبار کول په کار نه دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خير و لولئ

معلومیږي چې هغه استاد سیاف چې له دې مخکې د جهاد او کورنۍ جګړې پر مهال هیڅ هم په خپله ګټه نه وو استعمال کړی او نه یې غولولی وو، خو کرزی صاحب وتوانید چې هغه هم په ناسم ډول خپلو اهدافو ته د رسیدو له پاره وکاروي.
ډاکټر زلمي رسول ته د جمعي ورځ ۲۱ فبروری ۲۰۱۴ ز کال کې د ۱۷۰ کسانو د جرګې په خوله ځواب ورکول شو، چې باید ښاغلي قیوم کرزي ته له خپلې نوماندۍ څخه تیر شي.
ډیری کسان پر دې نظر وو چې ښاغلي کرزي له زلمي رسول څخه ملاتړ کوي، او خپله کرزی صاحب هم وایې چې له خپل ورور قیوم کرزي څخه ملاتړ نه کوي، اوهغه باید د زلمي رسول یا کوم بل کاندید په ګټه له خپلې نوماندۍ څخه تیر شي.
دا امکان لري چې زلمی رسول به د قیوم کرزي په ګټه مجبوراً له خپلې نوماندۍ څخه تیر شي، خو دا لیري بریښې چې قیوم کرزی به د زلمي رسول په ګټه اوسمهال کې له خپلې نوماندۍ څخه تیر شي.
یو کمزوری دلیل خلک داهم وړاندې کوي چې ممکن ښاغلی کرزی به د خپل وررو ننګه له دې امله نه کوي چې دا ځل به زلمی رسول او یا ډاکټر اشرف غني واک ته ورسیږي، چې د کرزي خوښه به پکې وي، بل ځل به د ۲۰۱۹ ټاکنو ته بیا خپله حامد کرزي ودریږي، خو که ورور یې واک ته ورسیږي بیا به دده چانس ډیر کم وي، مګر زه د خلکو له دې خبره سره موافق نه یم، ځکه که چیرته ډاکټر اشرف غني احمدزی او یا عبدالله عبدالله واک ته ورسیدل، بیا به ستونزمنه وي چې د کرزي صاحب کورنۍ به بیا واک په اسانۍ سره په راتلونکي کې ترلاسه کړي.
د ښاغلي کرزي صاحب ډله او ملګري د ښاغلي ولسمشر په اشاره او خوښه په ځینو مجلسونو کې داسې هم وایې چې استاد سیاف نړیواله ټولنه نه مني، هغوی ورسره اختلافات او ستونزه لري، ډاکټر اشرف غني احمدزی ډیر تیز (غوسه ناک او هیجاني کیدونکی) شخص دی، له نړیوالو سره به پر لاره ولاړ نه شي او ممکن چې خبره ورڅخه خرابه شي، ډاکټر زلمی رسول بیا ډیر پس (بې خولې او بې واکه) سړی دی، کار نه شي کولای، داسې چاته اړتیا ده چې نه ډیر تیز او نه ډیر پس وي، هغه یواځې ښاغلي قیوم کرزی کیدلای شي.
د ښاغلي کرزي له پاره لوی سرخوږي ډاکټر عبدالله عبدالله دی، عبدالله عبدالله سر له اوسه وایې چې راتلونکی ولسمشر زه یم، خلک لرم رایې هم ګټم، که زه ولسمشر نه شم (د ده په وینا درغلي ؤشي) ټاکنې نه منم.
بل خوا بیا ویل کیږی چې دوستم هم له دې امله د ډاکټر اشرف غني احمدزي سره ودریدی چې هغه فکر کاوو چې کرزی صاحب د احمدزي ملاتړ کوي، داسې نښې هم ښکاري چې ممکن دوستم بیا کوم لیونتوب وکړي، دغه د نړۍ دوهیم درجه مفتکر غني او د افغانستان لومړۍ درجه قاتل دوستم تر ډیره وخت پورې پر یوه لاره تګ ونه کولای شي.
زما په آند سره له دې چې نړیوال ټولنه به د ښاغلي کرزي د ورور قیوم کرزي د ولسمشر کیدو سره ستونزه ولري، خو ښاغلي کرزي به تر خپله وسه پورې کوشش وکړي چې ورور یې واک ته ورسیږي. که هغه نه وي دوهیم انتخاب به یې زلمی رسول او دریم انتخاب یې اشرف غني احمدزی کیدای شي.
انتخابات به ممکن چې په یومخیز ډول که ولسمشر کرزی وتوانیږي وځنډول شي، ویل کیږي چې نړیوالو ته یې ویلې که دوه یا درې کلونه نور هم وخت ورکړي نو په دومره وخت کې به په هیواد کې سوله راولي، هغه څه چې په تیرو دولس کلونو کې یې ونه شوای کولای.
که انتخابات په خپل وخت او یا لږ وروسته ؤشي، ممکن چې ډاکټر اشرف غني احمدزی، ډاکټر عبدالله عبدالله او قیوم کرزی د ډیرو رایو وړونکي اعلان شي، خو یو به هم د ټولو کارول شویو رایو تر ۵۰ زیاته سلنه خپله نه کړي، او تر پنځوس سلنه به یې رایې کمې وي.
انتخابات به دوهیم پړاو ته ځي، سر له اوسه د دوهیم پړاو له پاره د ډاکټر اشرف غني احمدزي او ښاغلي قیوم کرزي ترمنځ پر معامله خبرې رواني دي.
زما په اند، په لومړي دوره کې به ډاکټر اشرف غنی احمدزی او قیوم کرزی ډیر کوشش وکړي چې هر یو د بل څخه ډیرې رایې خپلې کړي تر څو په دوهیم پړاو کې معامله د هغه په ګټه تمامه شي، پر دې معنی که په لوی توپیر سره په دوی دواړو کې هر یوه ډیرې رایې خپلې کړي، ممکن د کمو رایو وړونکی یې په ګټه تیر شي او په دوهیم پړاو کې به یو له دې دواړو څخه د ډاکټر عبدالله عبدالله مقابله کوي.
زه په هیڅ صورت د هیواد اوسنیو شرایطو ته په کتلو سره پر انتخاباتو عقیده نه لرم، او نه یې هم د افغانستان د ستونزې حل لاره ګڼم، یواځې د دی له پاره مې دغه څو کرښې ولیکلې چې د متفکرانو د متفکر ابتکار او سیاسي ځیرکتیا، او پر اوسنیو واک غوښتونکو یې بریا او د هغوی څخه وخت په وخت د ګټې پورته کولو، او د ځان په ګټه کارولو باندې رڼا ولویږي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ